

د کورترایک زان درنو اوسیدونک،

د زاود – وست فلاندرن د ښاروونو او ښاروالۍ ګانو سره یو ځای مونږ ستاسو د کورنۍ هر غړي ته چې عمر یې د ۱۲ کالونو څخه لوړ وی، یو کیفیت لرونکی او د بیا ځل کار اخیستلو لپاره مناسب د خولې ماسک ډالۍ کوو.

**دا لارښودني په دقت ولولئ.**

## د خولې ماسک کارول ولې ګټه کوی؟

- د خولې د ماسک کارول په لمړی قدم کې د هغو کسانو ساتنه کوی چې ستاسو په شا او خوا کې دی.
- د خولې د اوبو د هغه څاڅکو د انتقال څخه چه احتمالاً په ویروس ککړ وی مخنیوی کوی.
- که هر یو کس ماسک وکاروی بیا به مونږ او تاسو د یو بل حفاظت وکړو.

پاملرنه: د خولې د ماسک کارول په دې مانا نه ده چې تاسو په بشپړه توګه محفوظ یاستئ. ځکه مهمه ده چې خپل لاسونه هرکله پریمنځئ او په کافی اندازه د نورو کسانو څخه واټن وساتئ.



## د خولې د ماسک څخه کله کار اخلئ؟

- د خولې د ماسک کارول د ۴ **د می** څخه په لاندنیو حالاتو کې **جبری** دی:
  - په **عامه ترانسپورت** کښې د هغه مسافرینو لپاره چې په ۲۰۰۸ کال کښې زیږیدلی دی او لوړ عمر لری.
  - په **عامه ښوونځی** کښې د هغه مسافرینو لپاره چې په ۲۰۰۸ کال کښې زیږیدلی دی او لوړ عمر لری.
  - د **کار** په مهال کله چې د 1,5 متره فزیکی واټن تضمین ممکن نه دی.
- په نورو عامه ځاینو کښې، چیرته چې تاسو د نورو کسانو سره نږدې اړیکي نیسئ (لکه سوپر مارکیټ)، د خولې د ماسک کارولو **سپارښتنه** کیږی.
- په هغه ځاینو کې چې لږ خلکو ستاسو په شا او خوا کې شتون لری لازمه نه ده چې حتماً د خولې ماسک وکاروئ.



## د خولې د ماسک څخه څه ډول کار اخلئ؟

- **مخکې له هغه څخه چې ماسک وکاروئ خپل لاسونه پریمنځئ.**
- کوښښ وکړئ چې په دې باندې یو شئ چې د ماسک مخ او څنګ کوم یو دی.
- کوښښ وکړئ چې ماسک داسی وکاروئ چې ستاسو **پزه، خوله او زنه** پټه کړی او د ماسک اړخونه ښه بند ووسی.
- وروسته د ماسک د کښیښود **څخه تر هغه اندازې پورې چې امکان لری په ماسک** باندی لاس مه وهئ.
- که چیری ستاسو د ماسک په مخ سر نه وی ناست بیا **یوازې په اړخونو** باندی لاس ووهئ ترڅو یې سم کړئ.
- د ماسک د لری کولو په مهال یوازې د مزی یا لاشتک



ښخه کار واخلئ.

- د ماسک د لرې کولو څخه وروسته خپل لاسونه پرېمنځئ.
- که چېرې ماسک د لنډې مودې لپاره لرې کوئ (فرضاً د اوبو یا څه شی ښښلو په مهال) بیا یې په یو پاک ځای کې کښېدئ چې ورسته پاک کول یې ممکن ووسی یا ماسک په کاغذی یا د تکې په یوې کڅوړې کښې ننباسئ.



# د خولې ماسک څنګه کولای شئ پاک وساتئ؟

- کله چې تاسو په روښانه توګه ککړتیا او رطوبت په **ماسک** کې ګورئ بیا هغه **پاک کړئ**.
- ماسک هره ورځ وروسته له کار اخیستلو څخه پرېمنځئ:
  - **د کالیو منځلو په ماشېن کښې: په ۶۰ - ۷۰ درجو** په معمولی پرېمنځلو موادو (د نورو کالیو سره یو ځای پرېمنځئ)
  - که چېرې ماسک په ټېټه درجه حرارت پرېمنځئ (فرضاً په لاس)،
    **بیا په لوړ درجه حرارت یې پرېمنځئ.**
- کوښښ وکړئ چې ماسک **بیا ځل هغه مهال وکار چې وچ شوی وی.**
- ماسک په **یخچال یا د یخچال په یخ خانې کښې مه** اېږدئ:
  ددې کار په مرسته ویروس نه مړ کېږی خو نور خوراکی توکی په ویروس ککړ کېږی.
- که چېرې تاسو په یو ککړ ماسک باندی لاس ووهئ (فرضاً کله چې غواړئ د کالیو منځلو ماشین کښې واچوئ) ډېر ژر خپل لاسونه پرېمنځئ.
- د خولې ماسک هرې خواته مه اچوئ: د خپل پاک ماسک لپاره یو پاک ځای انتخاب کړئ او ښه به دا وی چې د خپل ناولی ماسک په یو تکې کڅوړې کښې واچوئ او کڅوړی سره یې یو ځای پرېمنځئ.
- که چېرې ممکن وی د وروسته له ۲۰ ځل پرېمنځلو څخه د ماسک څخه کار مه اخلئ.



**تاسو کولای شئ چې په دوکانونو کښې ماسک واخلئ.**

# آیا تاسو پوښتنې لرئ؟

د لاندنی ویب سایت له طریقه خپلو ټولو پوښتنو ته ځواب موندلی شئ.
www.kortrijk.be/corona

*Vertaling Nederlands-Pasjtoe.*
*Deze vertaling mag enkel verspreid worden met de originele brontekst.*